السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# ځوک چې له اطاعت څخه ووت، او ټولی يې پرېښوده، بیا مړ شو، نو مرګ يې د جاهلیت مرګ دی

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څوک چې له اطاعت څخه ووت، او ټولی يې پرېښوده، بیا مړ شو، نو مرګ يې د جاهلیت مرګ دی، او څوک چې د داسې یو بیرغ لاندې وجنګیده چې برخلیک يې نه و معلوم یوازې د خپلوانو او قوم په خاطر په قهر او غصه شي، یا دا چې تعصب ته يې بلنه کوله، او یا يې ملاتړ د تعصب له مخې و، بیا مړ شو، نو مرګ يې د جاهلیت دی، او چا چې زما پر امت خروج وکړ، داسې چې نیک او بد يې له منځه یوسي، او د مؤمن په اړه يې پروا و نه ساتي، او د هېڅ ژمنې والا سره يې په ژمنه وفا نه کوي، نو هغه له ما څخه ندی او زه له هغه څخه نه یم».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې د حاکمانو له اطاعت څخه ووځي او د اسلام له هغې ډلې څخه جلا شي چې له امام سره يې بیعت کړی وي او په همدې حالت کې مړ شي، نو هغه د جاهلیت د خلکو په مرګ مړ شو، هغه خلک چې د امیر اطاعت يې نه کاوه، د یو جماعت سره نه یو ځای کېدل، بلکې دوی بېلابېلې ډلې او ټپلې وې چې یو بل به يې سره وژل. او هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې د داسې بیرغ لاندې وجنګیږي چې حق لوری پکې له باطل څخه روښانه نه وي، یوازې د خپل قوم یا خپلې قبیلې لپاره د تعصب په خاطر غصه کیږي؛ نه د دین او حق د ملاتړ لپاره، نو له بصیرت او پوهې پرته د تعصب له مخې جنګیږي، که چېرته پدې حالت کې ووژل شو، مرګ يې لکه د جاهلیت د مرګ په څېر دی. او دا چې څوک د محمد صلی الله علیه وسلم د امت پر وړاندې بغاوت وکړي، نیک او فاجر دواړه يې وژني، او څه چې کوي هېڅ پروا يې نه ساتي او د هغه له امت څخه د مؤمنانو د وژنې له سزا څخه نه وېریږي، او د کافرانو سره يې چې له چاسره تړون کړی او یا يې د خپلو چارواکو سره تړون کړی، نو وفا پرې نه کوي بلکه ماتوي يې، نو دا لویه ګناه ده، او چا چې دا ګناه وکړه، نو د سخت ګواښ مستحق دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58218

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee